عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۰۹/۲۰م

# په منځني اوروپا کي د امريکا دفاعي پلان منحل شو

امريکا د خپل هغه د فاعي دستګاه د پلان څخه چي ټاکل شوي وه د اوروپا په لمنځني هيوادونو پولند او چك کي د ايران د راکټونو د تهديد له امله نصب اوځاي پرځاي شي پښيمانه شوه , او په رسمي توګه ددغه پلان نه عملي کيدل د امريکا د جمهور ريس بارك اوبامه له خوا اعلان شول , دا په داسي وخت کي چي د ايران د راکټونو تهديد او ګواښ له وړاندي په غلطو استخباراتي رپوټونو ولاړ وا نو ځکه د حقيقت د څرګنديدو سره چي ګواکي د ايران راکټونه اوس مهال د ګواښ توان نلري دا پلان منحل شو , دا پلان د جمهوري خواهانو د حکومت په ترڅ کي چي د نړي د سياسي کشالو د حل لپاره يي جګړيزه تګلاره خپله کړي وه د ايراني راکټي ګواښ له امله په پام کي نيول شوي وه او د بوش د حکومت په دوران کي د عملي کيدو لپاره د پولند او چك جمهوريتونو سره چي له اوږدی مودی د روسيه په فلك کي اوسيدلي دي لاسليك شو, دا نظامي خوزښت هم د بوش د سياسي اداري د تګلاری يوه برخه وه چی د نړي په کچه يي د سياسي کشالو د حل لپاره خپله کړي وه به خاصه توګه په اسلامي نړی کي , خو دا راز کړنلاره د امريکا په واك کي سياسي اداری ته ستونزي رابرسيره کړلي چي په پايله کي يی جمهوري خواهانو خپل سياسي واك له لاسه ورکړل , سربيره په نظامي ستونزو هغه لوي او ستر اقتصادي بحران ياد ولي شو چي د امريکا د سترو مالي موسسو د نړيدلو لامل شو, اود نړي ټول مالي سيستم يي ښکار شو .

د جمهوري خواهانو د اداری به رانړيدو سره د اوباما په مشری د ديموکراتانو ګوند دواك وښي په لاس کي واخيستلي , ديموکراتانو لکه چی له وړاندي يی اعلان کړي وه غواړي ترڅو هغه ستونزی چی امريکا ورسره د نړي په کچه لاس ګريوان شوي ده د خبرو اترو اود ديپلوماسی بنسټونو له لاري اواري کړي , د همدي تګلاري د پلي کولو له پاره د امريکا د بهرني سياست په هکله ګامونه پورته شول تر څو امريکا د هغه ګرداب څخه د وتلو لاره پيدا کړي چي اوس مهال ورسره مخامخ ده , په پولند او چك جمهوريتونو کي د دفاعي سيستم د پلان درول هم د همدغي تګلاري يوه برخه ده او بعضي سياسي کتونکي خو يی د اوسني اداره سياسي ذکاوت بولي , خو دا نا ځاپه بدلون د امريکا په بهرني سياست کي د پولند او چك جمهوريتونو لپاره کيدي شي چي د اندښنی وړ وي چي په د هکله يی سياست پوهانو ديری نيوکي کړي دي لکه چي په مطبوعاتو کي خپريږي , او جرمني يي کلك هرکلی کړي دي او دنړي د امنيتي وضعيت په اړه يي په نيك فال نيولی , همدا راز روسيه يي هم ارکلي کړي , او لندن هم خپله رزامندي ښولی ده , دا خو په د هکله د نړي د پياوړيو هيوادونو غبرګونونه وه .

سره لدي چي د روسيه د بهرنيو چارو ويائد په ډاګه کره چي د دی پلان د درولو په پايله کي کوم پټ جوړجاړی ندي شوي خو د يو شمير کتونکو په اند دا د هغه جوړ جاړي يوه برخه ده چي روسيه د امريکا داکمالاتي الوتکو په وړا ندي خپله فضا پرانيزي , او د افغانستان د ټاکنو د پايلي په هکله ورسره کومي مناسبي پريکړي ته ورسيږي , د ياد وړ ده چي لهمدي اعلان سره سم د افغانستان د ټاکنو پايله هم ځنا څه بربنده شوه , داسي اټکل کيږي چي روسيی خپله ونده په افغانستان کي تر لاسه کوي , که د تيرو څو ورځوسياسي پيښي د افغانستان په سياسي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

چابيريال کي په خپل ذهن کي تکرار کړو نو خامخا  د امريکايانو په دريځ کي د افغانستان به هکله بدلون وګورو, او امريکا د ايران د اتومي پلان په هکله د امنيت دشورا په راتلوني غونډه چي په ايران د بنديزونوپه هکله په اکتوبر کي دايريږي د روسيه رايه ته ضرورت لري , او اوس مهال روسيه په ايران بااندي د بنديزونو مخالفت کوي , خو آيا پدي بدلونونو کي د افغانستان د ملت ښيګڼه شته ده ؟

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب  خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.